په لوګر کې د نوي کال او بزګر د ورځې په مناسبت دوه ورځنی ننداړتون جوړ شو

د وري ۷ مه: دغه ننداړتون د پائيز فرامرز خصوصي شرکت په زيار، دلوګر د کرنې رياست او نورو دولتي او خصوصي ادارو په ګډه همکاری جوړ شوی ؤ، چې پکې د هرې اداري توليدات او خدماتي توکي دخلکو په وړاندې ننداري ته اېښودل شوي ؤ. د لوګر د کرنې او مالداری رييس عبدالله تسل د دغه ننداړتون د پرانيستې په مهال ګډونوالو ته مالومات ورکړل او ويې ويل، چې په ياد ننداړتون کې د لوګر د دولتي ادارو بېلابېل محسوس توليدي او خدماتي توکي ننداري ته اېښودل شوي دي.

لوګر مرستيال والي محمد عمر مرجان د داسې ننداړتون پرانيسته په لوګر کې ښه پيلامه وګڼله او له لوګري ولس نه غوښتونکی شو، چې له ياد ننداړتون نه ليدنه او ګټنه پورته کړي.

په دغه ننداړتون کې د کرنيزو توکو وسايل او پيداوار؛ لرغوني آثار، کتابونه، لبنيات، لاسي جوړ کړي توکي او نور قيمتي څيزونه ننداري ته اېښودل شوي ؤ.

د دغه ننداړتون مشر او د پائيز فرامرز د شرکت رييس سيد اميد مسرور وايي، چې د بزګرانو د هڅونې او د هېواد ولايتونو خلکو ته دلوګر انځور وړاندې کول د دوی يوازينۍ موخه ده، چې د اسې ننداړتونونه جوړ کړي، څو دلوګر له کرنيزو او دشته نورو توکو نه خبراوی ترلاسه کړي.

مسرور زياته کړه، چې په پام کې لري ورته نور ننداړتونونه دهېواد په نورو ولايتونو کې جوړ کړي؛ خو يوازينۍ غوښتنه يې له ولس نه وکړه، چې په دغه لار کې له دوی سره پوره مرستندويه وواسي.

همدارازدلوګر داطلاعاتو او فرهنګ رياست هم په دغه ننداړتون کې لرغوني آثار، لاسي صنايع، کتابونه او قديمي توکي ننداري ته اېښودلي ؤ.

دلوګر داطلاعاتو او فرهنګ رييس عبدالرحمن تسل وايي، ورته ننداړتون جوړيدل د ولايت انځور او فرهنګ خلکو ته څرګندوي، چې په ټوله مانا د يو ولايت استازولۍ د ټولنيزو، کرنيزو، ښوونيزو، روغتيايي خدمتونو او نورو برخو کلتوري اړخونه بيانولای شي.

تسل زياته کړه، چې له نېکمرغه لوګر ولايت يو کرنيز او کلتوري ولايت دی، چې زياتره وګړي يې په کرنيزو برخوباندې بوخت دي، چې دغه ننداړتون به وکولای شي، د دوی په کاري چټکتيا کې مثبت رول ولوبوي، ځکه دوی به لا وهڅول شي، چې خپلو ځمکونه ښه پيداوار ترلاسه کړي. همدارنګه تسل د کلتوري له اړخه لوګر ولايت يو لرغونی ولايت ياد کړ، چې په دغه کلتوري سيمه (لوګر) کې ډيری تاريخي او قديمي سيمې شتون لري، چې د څېړنو له مخې لرغونيتا يې زرګونو کلونو ته رسيږي.

ده دلوګر ولايت مس عينک لرغوني سيمې ته اشاره وکړه، چې دهماغه لرغوني سيمې ترلاسه شوې مجسمې، هستوپې او دنورو آثار و انځورونه په ننداړتون کې اېښودل شوي ؤ، چې د ډيريو ننداره چيانو پام يې ورخپل کړی ؤ.

د ننداړتون له پرانيستې وروسته لوګر والي عبدالقيوم رحيمي د بېلابېلو دولتي او غيرې دولتي ادارو له ننداړتونونو ليدنه وکړه او په اړه يې له اړوندو مسؤلينو د مالوماتو غوښتونکی شو، چې د ننداړتونونو له مسؤلينو لخوا مالومات ورکړل شول.

ديادونې وړ ده، چې ياد ننداړتون دبزګر د ورځې په ويار جوړ شوی ؤ، چې دوه ورځې دننداره چيانو په وړاندې پرانيستی پاتې ؤ.

خلص سوانح الحاج آقامحمد مشهور به حاجی آغاگل خوشیوال

شهید الحاج آغاگل خوشیوال فرزند مرحوم مامورغلام حسن خان درسال ۱۳۳۷ هجری خورشیدی درقریه میانه ده ولسوالی خوشی ولایت لوگر چشم به جهان گشود. تحصیلات ابتدایی اش را در لیسه عالی خوشی و تحصیلات عالی خود را در لیسه عالی جهادی کلنگار به پایان رسانید وبعد از فراغت لیسه مذکور در دوران حکومت شهید سردارمحمدداوودخان در وزارت سرحدات به حیث مامورسرحدات ایفای وظیفه مینمود.

با رویکار آمدن رژیم شوروی سابق در افغانستان ترک وظیفه نموده وعازم دیار مهاجرت کشور پاکستان گردید، بعداً دوباره به افغانستان بازگشت به جهاد مقدس شروع نمود وبه ضد حکومت وقت به مبارزه خود ادامه داد، که بعد از استقلال حکومت به حیث یک شخص مصلح وخیرخواه درمیان مردم خود قرار گرفت.

بنا بر تقاضای مردم ولایت لوگر خود را درشورای ولایتی نامزد نموده نظر به لیاقت وشایستگی که داشت در شورای مذکور راه یافت وبه حیث معاون شورای ولایتی ایفای وظیفه مینمود. که سرانجام روزپنجشنبه ساعت چهاربعد از ظهر به تاریخ ۲۵ میزان ۱۳۸۷ هنگامیکه از وظیفه خود به طرف خانه درحرکت بود درکمین ناجوانمردانه توسط دشمنان اسلام به شهادت رسید.

(انا لله وانا الیه راجعون)

به باز ماندگانش صبرجمیل وبه خودش بهشت برین تمنا داریم.

په لوګر کې د نوروز او نوي کال جشن په ښار او واټونو کې په آتڼونو ونمانځل شو

د وري ۳ مه : په لوګر ولايت کې د اطلاعاتو او فرهنګ رياست په ځانګړي نوښت د ښار په دننه کې د نوروز او نوي کال دوديزه مېله په آتڼونو او خوشاليو باندې ونمانځل شوه .

په دې مراسمو کې د لوګر ولايت مرستيال والي محمدعمر مرجان، د اطلاعاتو او فرهنګ رييس عبدالرحمن تسل، لوګر ښاروال عبدالقادر ستانکزي او په سلګونو لوګريو ځوانانو برخه اخيستې وه .

په دې جشنيزپروګرام کې په لسګونو ځوانانو آتڼونه وکړل او هيله يې څرګنده کړه، چې نوی کال د سولې او آبادۍ پيلامه شي .

دلوګر داطلاعاتواوفرهنګ رييس عبدالرحمن تسل وايي، چې د نوروز او نوي کال نمانځل يخوانۍ دوديزه مېله ده، چې له ډيرو کلونو را په دې خوا د افغانستان په ګډون په يو شمير نورو هيوادونو کې هم په بېلابېلومېلو، آتڼونو او يو شمير نورو پروګرامونو باندې نمانځل کيږي .

تسل وويل؛ چې د همدې اونۍ په ترڅ کې به د نوي کال او کمال خان بند په مناسبت د نيال اېښودلو يو ګډ کار (اشر) او د غه راز د کتاب جشن ځانګړې برنامه هم عملي کړي او وياړ او مناسبت به يې نوي کال او د کمال خان بند پرانستې ته ځانګړئ شي .

په لوګر کې د وطني خوړو مېله جوړه شوه

د وري ۱۷ مه:

د لوګر ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ رياست په ځانګړي نوښت، ددې ولايت د وطني لبنياتو او محصولاتو د پياوړتيا په موخه د لوګر د اصلي خوړو مېله جوړه شوه.

په دې جشن کې د لوګر والي عبدالقيوم رحيمي په ګډون د دوهمو واحدونو رييسانو، امنيتي چارواکو، ځوانانو، فرهنګيانو او د رسنيو استازو برخه لرله.

د لوګر اطلاعاتو او فرهنګ رييس عبدالرحمن تسل وايي؛ چې په دې رياست کې يې د وطني (مستو او جواريو) مېله په دې موخه جوړه کړې وه، چې وطني لبنياتو ته د خلکو پام را واوړي او په دې سره د لوګر په محصولاتو او عايداتو کې زياتوالی راشي.

د تسل په وينا اوسمهال د کابل په ګډون اکثره نږدې ولايتونه د لوګر له لبنياتو استفاده کوي چې دې چارې پراختيا د ولايت عايدات زياتوي او د لوګري ولس په اقتصادي وضعيت کې ښه والی راولي.

د لوګر ولايت والي، مسوولينو او د دې جشن ګډونوال د لوګر اطلاعاتو او فرهنګ رياست د وطني محصولاتو د کارونې فرهنګ پياوړتيا په برخه کې دا اقدام وستايه.

پيام رياست اطلاعات وفرهنگ ولايت لوگر

يک ملت زمان زنده ميماندکه بتواند فرهنگ وتاريخ خويش را زنده نگهدارد.

باشنده گان شريف علمی وفرهنگ دوست ولايت لوگر! فرهنگ گذشته خويش را فراموش نکنيد !

درقسمت احيايی مجدد ميراث های فرهنگی وآثارباستانی بامشکلات فروان که دامن گير تمام مردم است با ما همکاری نمايد، آثار تاريخی وداشته های فرهنگی تان را به حيث افتخارات ملی خويش و نواميس ملی تان حفظ کنيد باعث تخريب، ويرانی وسرقت آن نشويد چون هويت يک کشور را گذشته تاريخی آن تشکيل ميدهد .

ما بايد بادرنظرداشت اين مسله توجه بيشتر را صرف حفظ ميراث های فرهنگی سر زمين خود کنيم چون غنای فرهنگی ما مايه افتخار ماست .

رياست اطلاعات وفرهنگ يک بار ديگر از مردم شريف وفرهنگ دوست ولايت باستانی لوگر خواهشمند است که همچو اجناس (ظروف) درمنازل خويش داشته باشند جهت تقويت موزيم آن را به اين اداره اهدا نمايند.

مديريت عمومی موزيم

کومې کړنې ښې پايلې لري؛ نمايشي که بنيادي!؟

اوس مهال له کليو، باندېو او له ولايت پيل آن د هېواد په کچه د نمايشي کړنو فرهنګ دومره زور اخيستې، چې زياتره وګړي ددغوکړنو د تاثير لاندې راغلي او بنسټيزې کړنې د دوی له ذهنه لويدلي دي .

د نمايشي کړنو موثريت پر بنيادي کړنو غلبه کړې، چې ډيری خلک دا توپير هم نشي کولی، چې د هېواد او ولس په ګټه کومې کړنې مثبتې پايلې لري . د ټولنيزو شبکو په رامنځته کېدو، د نمايشي چارو ته انعکاس ورکولو فرهنګ ورځ تربلې زور واخيست او دغه فرهنګ هره ورځ د پراختيا په لوري د خلکو ترمنځ دود مومي.

د دغه ډول کړنو ښه بېلګه له ځينو ادارو نه فکر وکړو بيا تر ولسي ټولنو پورې يادولی شو، که دحکومتي ادارو کړنې ارزونه وشي، نو ډېری ادارې د نمايشي کړنو د ترسره کولو ټول فعاليتونه په ټولنيزو شبکو کې خپروي، چې يو لوی خنډ د ارزونې پر وړاندې دی، چې ارزونکی په آسانۍ توګه د ادارې ټولې چارې د ټولنيزو شبکو له لارې کوي، چې دلته د ادارې لاسته راوړنې او نتايج يې نشي موندلای .

غوره ده، چې د نمايشي کړنو پر ځای د محسوسو کړنو فرهنګ ته وده ورکړل شي، چې ټول ولس ورنه ګټمن او په دې لړۍ سره نوي راتلونکي نسلونه مو هم د چارو په عملي کولو کې ولس ته بې مخينې چوپړتياوې وړاندې کړي .

نمايشي کړنې په حقيقت کې د خلکو سترګو ته خاورې شيندل اوخان تېر ايستل دي، چې ځينې حکومتي مامورين د خپلو موقفونو د ساتلو لپاره ترسره کوي او خپلو لوړپوړو مسوولينو ته ځان ډېر چالاک او فعال ښيي، خو د عمل په ډګر کې بيا ټول ورته کسان هېڅ نه دي؛ بلکې د يو غوړه مال او محافظه کار په توګه يادېږي .

بنيادي، بنسټيز او محسوس فعاليتونه دا هغه څه دي، چې د ټول ولس لپاره د هوساينې، پرمختګ او اقتصادي ودې په برخه کې چټکتيا رامنځته کوي او تر ډېر مهاله د پايښت او پاتې کيدو سبب ګرزي . لکه څنګه چې اوس د کړنو لپاره ژمنې ورکول يو عادت ګرزيدلی، نو د بنسټيزو کړنو د اجرا په وړاندې نمايشي چارو ځای نيولې دی .

بنيادي کړنې د هېواد په جوړونه کې ستر ارزښت لرونکي وي، خو نمايشي کړنې بيا د شخص لپاره وي، چې يوازې ګټه يې يو نفر وړي او نور وګړي د نمايشي کړنو د لېدو او خبريدو نه نور هيڅ ګټه نشي پورته کولای .

دغه کړنې که همداسې دوام ولري، نو دا ويلای شو، چې افغانستان به کلونه کلونه په همدې لومه کې بند پاتې وي او د پرمختګ څرک به نه ليدل کيږي . بيابه وايو، چې زموږ جګړه ځپلی هېواد ولې د پرمختګ لوري ته ځان نباسي، چې دا غلطه خبره ده، هېواد چې د ودانېدو په لوري خوځښت نه کوي، همدا زما او ستا قصور دی، ځکه زه او ته خپل جيب ته فکر ولرو، نو بيا د ملت او ولس څه پروا به ولرو.!

بس دی، نور هېوادوال د نمايشي کړنو پر خلاف دي، دوی لپاره د زړه له تله کار وشي، نور د ځانمنلو او ځان ستاينو نه ټول هېوادوال سترې شوي او نه غواړي چې د ولس په سترګو خاورې ودوړول شي، بلکې د ولس سترګو لپاره رانجي ته اړتيا ده، چې د دردونو نه په امن کې واوسي .

ليکنه : ستانکزی

تاريخ

لوگر در آثار مؤرخان وجغرافيا نگاران (يونانی و اسلامی)

قسمت دوم

نويسنده : استاد شاه محمود محمود

که روی اين ملحوظ، افاده نام لوگر معادل ويا به معنی قربانگاه ميشود.

جالب است که بگويم هندوان از گذشته های دور چشمه پادخواب وچشمه قلعه پادخوابی و چشمه دلاور در نزديکی های سجاوند رامورد تقديس خويش قرار ميدادند ودايماً برای پاکی و زدودگی از گناهان به اين چشمه ها می آمدند وعقيده داشتند که اين چشمه ها با دريای گنگا در هند ارتباط دارند .

مرحوم احمد علی کهزاد مؤرخ معاصر کشور با در نظرداشت اينکه لوگروسکاوند را مترادف هم آورده است، لوگر را يکی از مراکز دينی ومذهبی برهمن شاهان وکابل شاهان ميداند و می نويسد که: در سکاوند يعنی لوگر بزرگترين معبد هندوان وجود داشت وهندو ها از اقطار هند به ديدن آن می آمدند، واضافه مينمايد که لوگر در تحت سيطره برهمن شاهان يا کابل شاهان قرار داشت، باوجوديکه کابل محل تاج پوشی آنها بود اما بزرگترين معبد آنها در سکاوند يعنی لوگر معمور بود .(۲)

در جای ديگر مرحوم کهزاد در مورد فتح کابل به دست يعقوب ليث صفار آورده است که: رايان کابل (رتبيل شاهان) بالاحصار و شهر کابل؛ هر دو را گذاشته، خود به سمت جنوب به لوگر و گرديز کشيدند و بعد مرکز خودش را به حصص شرقی مملکت به (ويهند) کنار اتک انتقال دادند. معبد معروف کابل که در حصص جنوب غربی بالاحصار وقوع داشت و رايان در آنجا تاج پوشی ميکردند، ويران شد. يعقوب ليث بت های سيمين و زرين آن را به بغداد فرستاد. مسلمانان بر نفس کهندژ شهر حاکم و مسکون شدند و هندوان و پيروان شيوايی و بودايی در ربض شهر و در حومه آن عقب تر رفتند چنانچه در موقعيکه عمروليث صفاری به سلطنت ميرسد و (فردهان يا فردعان) نامی را به حيث شحنه زابلستان مقرر کرد و او را با چهار هزار سوار می فرستد، ميان عمروليث صفاری و رای «کلمو» سومين شاه سلسله ای رايان کابلی جنگ بزرگ درعلاقه (سکاوند ــ سجاوند) لوگر واقع می شود و با شکسته شدن قوای کلمو وخراب شدن معبد بزرگ ومعروف سکاوند که در اقصای هند شهرت داشت، مقاومت نظامی و دينی هندوان و پيروان شيوايی از مضافات کابل هم برچيده ميشود . (۳)

مارکوارت نويسنده آلمانی مؤلف ايرانشهر که کتاب خود را بر مبنای جغرافيای موسی خورنی ارمنی معاصر ساسانيان نوشته است، برای کامل کردن نوشته خود، ملحقاتی به متن اصلی افزوده که مطالبی چون مرزبانان ارمنستان، حدود تاريخی کرمان، تخارستان (طخارستان)، سرزمين کابل وکابلشاه، قندهار و نواحی جيحون را در بر می گيرد. از اين ميان، مبحث مربوط به تخارستان، مفصل تر از ساير موارد است. اما در مورد معبد سکاوند گفتنی های دارد که ما را به ريشه يابی سکاوند رهنمايی مينمايد: در سکاوند معبد الهه هندی، به نامهای معبد لکشمی سوکاوتی را عمروليث در حدود سال (۲۸۳ هـ ق ــ ۸۹۵ م) ويران کرد.(۴)

بنابران ميتوان گفت که نام سکاوند از نام الهه هندو های افغانستان گرفته شده است .

۲ــ لوگردرمنابع مؤرخان و جغرافيه نگاران اسلامی :

قبل از آنکه در راستای کاربرد نام لوگر در منابع اسلامی بپردازيم ، لازم ديده ميشود که چگونگی تحولات وتغييرات اين نام را در سير تاريخ به بررسی بگيريم .

برخی دانشمندان افغانستان به اين باور اند که: لوگر از دوکلمه (لو) و (گر) تشکيل گرديده است که در زبان پشتو (لو) يا لوی به معنی بزرگ و(گر) يا غر به معنی کوه تعبيرگرديده است. کلمه (گر) در اکثر زبان ها با اندک تغيير معنی کوه را ميدهد چنانچه در زبان اورمری گری Gairi، در زبان اوستايی وسانسکريت گيری Giri حتی در زبان روسی (گره) تماماً به اين معنی ومفهوم استعمال گرديده است. با اضافه اينکه در زبان هندی وارد و کلمه Giri ويا (گهر) به معنی خانه، احتمالاً از همان کلمه (گر وغر) ريشه گرفته است. فراموش نبايد کرد که مردم ما، در گذشته وامروز به خاطر نجات خويش از سيلاب ها وديگر حوادث طبيعی به مناطق مرتفع ويا کوه ها پناهنده ميگرديد و از آن منحيث خانه وپناه گاه خويش استفاد ميکردند.

بنا آوردن کلمه گر ويا غر دراخير کلمات از قديم الايام تا امروز مورد کاربرد داشته است . (۵)

نکته ديگر ای که لوگر را به لوی غر و لوغر مسما نموده اند، موجوديت سلسله کوههای است که از لوگر تا پکتيا وپکتيکا تا ديره جات (ديره اسمعيل خان و ديره غازی خان) امتداد دارد، اينکه چگونه لوی غر به لوگر تبديل گرديده است بايد آنرا در تحولات زبانی جستجو کرد.

ضمناًمردم بيشتر برای آسانی گويش کلمات، از الفا ظ کوتاه و مختصر وآسان استفاده ميکنند .

بقيه مطلب در شماره بعدی